# بېشکه ستاسو د هر یوه پیدایښت د خپلې مور په رحم کې په څلوېښتو ورځو کې داسې راغونډېږي چې

له ابي عبدالرحمن، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان وکړ، حال دا چې هغه خپله رښتینی او د رښتیني په توګه منل شوی دی چې: « بېشکه ستاسو د هر یوه پیدایښت د خپلې مور په رحم کې په څلوېښتو ورځو کې داسې راغونډېږي چې بیا د دې په شان د غوښې ټکړه شي، بیا د دې په شان کرپندوکی شي، بیا الله تعالی یوه پرښتنه ورولېږي، نو هغه پکې روح پوک کړي، او ورته امر کېږي چې (په اړه یې) څلور شیان ولیکي: د هغه رزق، د هغه اجل، د هغه عمل او دا چې هغه به بدمرغه (شقي) وي او که نېکمرغه، نو قسم دې زما په هغه ذات وي چې له هغه پرته بل حق معبود نشته چې ستاسو څخه به یو څوک د جنتیانو عمل کوي تر دې چې د هغه او د جنت تر منځه به یوازې د یوه ذراع (نیم ګز) په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدیر به پرې رامخکې شي او د دوزخیانو عمل به وکړي، چې له امله به یې دوزخ ته لاړ شي، او همداراز ستاسې څخه به یو څوک د دوزخیانو عمل کوي تر دې چې د دوزخ سره به یې یوازې یو ذراع (نیم ګز) واټن پاتې شي، نو تقدیر به پرې رامخکې شي او د جنتیانو عمل به وکړي چې له امله به یې جنت ته داخل شي».

[صحیح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

خپلو خبروابن مسعود رضي الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا خبره کړې ده او هغه په کې رښتینی دی؛ ځکه چې الله تعالی رښتونی ګڼلی دی. هغه وفرمایل: ستاسو څخه د یو تن جوړښت راټولیږي، داسې چې کله یو سړی د خپلې مېرمنې سره یو ځای کیږي، نو د هغه شبندل شوي مني د ښځې په رحم کې د څلوېښتو ورځو لپاره د نطفې په شکل کې راټولیږي. بیا علقه وګرځي چې هغه ټینګه او وچه وینه ده، او دا - کار - په دویمه څلوېښت کې کیږي، بیا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژولو ته برابره وي، او دا په دریمه څلوېښت کې کیږي. بیا ورته الله تعالی ملایکه راولیږي، نو د دریمې څلوېښت په پای کې پکې روح پوکړي، ملایکې ته امر وشي چې څلور خبرې ولیکي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دی چې په خپل عمر کې به یې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنیا کې د هغه د پاتې کېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دی؟ او دا چې آیا نیکمرغه دی که بد مرغه. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم قسم یاد کړ چې یو سړی به د جنتیانو عمل کوي او عملونه به یې نیک وي، یعنې هغه څه چې خلکو ته ښکاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځه یوازې د یو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، یعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ کې به دومره فاصله پاتې شي لکه د یو ګز په اندازه، نو تقدیر او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته لیکل شوي دي نو د دوزخیانو عمل به وکړي، نو په همدې سره به یې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځکه چې د عمل د منلو شرط دا دی چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ونه کړي. او د خلکو څخه یو بل تن به د دوزخیانو عمل تر هغه وخته پورې کوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لکه د ده او د اور تر منځ چې د ځمکې د یو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدیر به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته لیکل شوي دي نو د جنتیانو عمل به وکړي او جنت ته به داخل شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee